# د ستراتېژيکو او سيمه‌ييزو څېړنو مرکز - کابل

**تحلیل CSRS | شماره: ۳۴۹**

۳۱ ثور ۱۳۹۹ هـ ش / 20 May 2020


**ویبسایت:** www.csrskabul.com - www.csrskabul.af

**ایمیل:** csrskabul@gmail.com - info@csrskabul.com


**لطفا نظریات و پیشنهادات خود را جهت بهبود مطالب این نشریه با ما شریک سازید.**

---


لومړی تحلیل

دویم تحلیل

# نوې سیاسي هوکړه او پر سوله یې اغېز



د ثور میاشتې په ۲۸ نېټه د ولسمشر محمد اشرف غني او پخواني اجرائیه رئیس ډاکټر عبدالله عبدالله ترمنځ د تېرو ټاکنیزو پایلو په سر د راولاړو شویو جنجالونو پای ته رسولو په موخه یوه سیاسي هوکړه لاسلیک شوه. د دې هوکړې له مخې د ثبات او همپالنې ټیم مشر ډاکټر عبدالله عبدالله ته د ملي پخلاینې شورا مشري او ملګرو ته یې په کابینه کې د پنځوس سلنه چوکیو ورکولو فیصله شویده.

دغه سیاسي هوکړه په داسې حال کې لاسلیک کېږي چې د ټاکنو پایلو اعلان وروسته هېواد د سیاسي بې ثباتۍ، تاوتریخوالي زیاتوالي، اقتصادي او په ځانګړې توګه د کرونا وایروس په څېر ستونزو سره مخ وو. د دې هوکړې له مخې هڅې شوې ترڅو ورته ستونزو ته د حل لارې پیدا کولو په موخه دواړه مشران پر دې هوکړې د لاسلیک کربنې راکاږي.

دا چې د دې هوکړه لیک تفصیلات څه دي؟ او آیا د ۲۰۱۴ کال د ملي یووالي حکومت د هوکړې په پرتله به څومره وکولی شي چې د سولې په روانه پروسه بنې اغېزې ولري؟ او اړونده نورو مواردو ته په دې تحلیل کې کتنه شوې ده.

Center for Strategic and Regional Studies (Kabul)

## د ۲۰۱۴او ۲۰۲۰ کلونو هوکړو ته ځغلنده کتنه

په ۲۰۱۴ کال کې د ولسمشریزو ټاکنو وروسته د محمد اشرف غني او ډاکټر عبدالله عبدالله ترمنځ د ټاکنو پایلو پر سر یو لړ جنجالونه رامنځ ته شول او یادو جنجالونو څو میاشتې وخت ونیو. د یادو جنجالونو پای ته رسولو پر موخه د امریکا د هغه وخت د بهرنیو چارو وزیر جان کیري په منځګړتوب د ولسمشر محمد اشرف غني او ډاکتر عبدالله ترمنځ قدرت تقسیم او د ملي یووالي په نوم حکومت رامنځ ته شو.

د ملي یووالي حکومت رامنځ ته کېدو له مخې اجرائیه ریاست چې په ښکاره د اساسي قانون سره په ټکر کې وو رامنځ ته شو چې مشري یې ډاکټر عبدالله عبدالله ترسره کوله. له دې پرته د دواړو مشرانو ترمنځ د لوړو څوکیو په برخه کې د ګمارنو په اړه هم توافق شوی وو، هغه څه چې په تېرو ۵ کلونو کې د دواړو مشرانو ترمنځ د ډېرو اختلافاتو او ستونزو پیدا کېدو ته لاره هواره کړه.

د ۲۰۲۰ ز کال سیاسي هوکړه چې د افغان مشرانو د هڅو په پایله کې رامنځ ته شوه، د اجرائیه ریاست پر ځای ډاکټر عبدالله عبدالله ته د ملي پخلاینې شورا مشري دنده ورکړل شوه، دا په داسې حال کې ده چې اجرائیه ریاست خو لا پخوا د جمهور رئیس غني د فرمان په بناء له منځه تللی ده. د دې پرته د نوې هوکړې له مخې د دولت عالي شورا به رامنځ ته کېږي چې غړي به یې د ځینو سیاسي څېرو څخه منځ ته راځي او دا شورا به د جمهور رئیس په خوا کې مشورتي چارې ترسره کوي.

همدارنګه د نوې هوکړې له مخې ستر جنرال عبدالرشید دوستم ته چې په تېرو ټاکنو کې د ثبات او همپالنې د ټیم سره وو؛ د ولسمشر د ځانګړي فرمان پر بنسټ د مارشالۍ لوړه رتبه ورکول کېږي. او یو ۵ کسیز منځګړی پلاوی چې غړي به یې سیاسي او ملي شخصیتونه وي ټاکل کېږي، ترڅو د دې سیاسي هوکړې د پلي کېدو څخه څارنه وکړي او پر وړاندې یې احتمالي خنډونه له منځه یوسي.

Center for Strategic and Regional Studies (CSRS Kabul)

## سیاسي هوکړه او پر سوله یې اغېز

د ولسمشر محمد اشرف غني او ډاکټر عبدالله عبدالله ترمنځ د نوې سیاسي هوکړې لاسلیک په داسې حال کې ترسره شو چې له دې وړاندې په کورنۍ او نړیواله سطحه زیات شمېر مشرانو هڅې وکړې ترڅو د یادو مشرانو اختلافات پای ته ورسوي او په پایله کې یو ټول شموله حکومت رامنځ ته شي. مګر تر درېیو میاشتو موده کې دواړه مشران په دې و نه توانېدل ترڅو یو ټول منلی حکومت رامنځ ته کړي. او بلآخره د پخواني ولسمشر حامد کرزي او جهادي شخصیت عبدالرب رسول سیاف په منځګړتوب چې نور سیاسي مشران هم ورسره وو، لخوا جدي هڅې پیل شوې چې شته اختلافاتو ته د پای ټکی کېږدي. دا چې د تېر ملي یووالي حکومت په خلاف؛ دا نوې سیاسي هوکړه د افغاني جهت په هلو ځلو رامنځ ته شوه نو قدر وړ خبره ده او پر همدې اساس ولسمشر او د ملي پخلاینې شورا مشر ، دواړو د یادو مشرانو د هلو ځلو څخه ځانګړې مننه وکړه.

د نوې سیاسي هوکړې له مخې د ملي پخلاینې شورا مشر به د سولې پروسه پر مخ بیایي او په دې اړه د تصمیم نیونې پوره واک ورکړ شوی دی. همدارنګه د دې هوکړه لیک په اساس، د ملي پخلاینې شورا د ناستو ترسره کېدو مشرۍ ترڅنګ، د پخلاینې شورا او د سولې په چارو کې د دولت وزارت د کارکوونکو او منسوبینو ټاکلو واک هم لري.

د ملي پخلاینې شورا چې ځانګړې بودیجوي واحد به لري، دنده لري ترڅو د دولت د اړوند ادارو سره په همغږۍ په ملي، سیمه ییزه او نړیواله توګه د سولې لپاره اجماع رامنځ ته کړي. او همدارنګه د سولې پروسې د ښه پرمختګ لپاره په نړیواله توګه مرسته او همکاري ترسره کولو ترڅنګ یاده شورا اړ ده ترڅو د سولې راتګ وروسته د نړیوالو مرستې جلب او ترلاسه کولو په برخه کې کوښښونه ترسره کړي.

Center for Strategic and Regional Studies (CSRS Kabul)

که څه هم څو ورځې وړاندې په کابل، ننګرهار او ځینو نورو ولایتونو کې د پراخو حملو ترسره کېدو په لړ کې ولسمشر غني ځانګړو ځواکونو ته د تعرضي حالت غوره کولو په اړه توندې څرګندونې کړې وې، مګر د نوې سیاسي هوکړې لاسلیک وروسته د ولسمشر لهجه نرمه او سوله ایزه وه. هغه د سولې څخه د یو لومړیتوب په حیث یادونه وکړه او څرګنده یې کړه چې هېواد د سولې په برخه کې ملي اجماع ته اړتیا لري او نږدې راتلونکي کې یې تل پاتي اوربند او سولې راتللو ته هیله مندي وښوده. د دې ترڅنګ یې ډاکټر عبدالله عبدالله د سولې په برخه کې د هېواد په سطحه یو وړ او مناسب شخص وباله.

د ولسمشر د دا ډول څرګندونو څخه معلومېږي چې لا هم د سولې په برخه کې هیلې شته او د نوې سیاسي هوکړې له مخې دواړه مشران سولې ته چمتو والی لري. او بل دا چې دغه ډول څرګندونې کولی شي مقابل لوري (طالبان) هم په راتلونکي کې لازیات و هڅوي چې د سولې او دایمي اوربند په اړه نرمي وښیي. که څه هم په قطر کې د طالبانو د سیاسي دفتر ویاند سهیل شاهین دې نوې هوکړې ته په غبرګون کې ویلي چې افغانستان یوې دایمي سولې ته اړتیا لري او دا نوې هوکړه لیک نه شي کولی ستونزه حل کړي. خو، دا چې په تېرو ولسمشریزو ټاکنو کې د عبدالله عبدالله بنیادي شعار، وطن ته د سولې راوستل و، نو هیله ده چې د نوې هوکړه لیک سره د سولې پروسه لا ګړندۍ شي.

د تېرو ولسمشریزو ټاکنو پایلو اعلان وروسته چې هېواد له یوې مخې سیاسي بې ثباتۍ، پراخو اقتصادي ستونزو او همدارنګه عام ولس د کرونا وایروس د خپرېدو د مخنیوي په موخه د قرنطین له امله بې کارۍ او بې وزلۍ سره مخ دی، که دواړه خواوې په رښتیا سره وغواړي، نو دغه نوې سیاسي هوکړه کولی شي د یادو ستونزو کمولو لپاره اغېزمنه ثابته شي. د داخلي جوړجاړي هوکړه لیک د تېرو ټاکنو د دوو اصلي سیالانو تر منځ په داسې حال کې لاسلیک کېږي چې د جمهور رئیس لمړی معاون؛ امرالله صالح، ننګرهار کی یو وار بیا طالبان ټکوي او وروستي تروریستی بریدونه د هغوی کار بولي. که نوی حکومت په رښتیا سولې ته ژمن وي؛ نو اړینه ده چې راتلونکی کې د دې ډول

Center for Strategic and Regional Studies (CSRS Kabul)

څرګندونو مخه ونیسي. د بین الافغاني خبرو اترو د شروع کیدو او کامیابۍ لپاره اړینه ده، چې په کشاله کې د ښکېلو لوريو ترمنځ د باور فضا رامنځ ته شي، يو د بل پر ضد منفي تبليغات ودروي او په رسنيو کې د سولې ادبيات د جګړه ييزو ادبياتو ځای ونيسي. همدارنګه د سولې په خاطر، دواړه لوري بايد يو د بل پر سنګرونو، روان انتقامي بريدونو ته د پای ټکی کېږدي چې د افغانستان ملت پکې قرباني کېږي.

افغان اولس هيله لري چې د وروستي تاور تريخوالی کچه به د نوې هوکړې پر اساس راښکته او دايمي اوربند ته به لاره هواره شي. او د سولې روانې پروسې پر وړاندې شته ستونزې لکه د زندانيانو خوشې کېدل چې د بين الافغاني خبرو اترو پر وړاندې ستر خنډ ګڼل کېږي هم حل شي او دا کار کولی شي د دواړو ترمنځ شته بې باورۍ له منځه يوسي او افغان ولس يوې تلې پاتې سولې ته د رسېدو لپاره ورنږدې کړي.

**پايله**

په داسې حال کې چې محمد اشرف غنی او عبدالله عبدالله ترمينځ نوې سياسي هوکړې ته په ملي او نړيواله سطحه د پراخه هرکلي غبرګونونه مخې ته راغلي، دواړه مشران بايد سولې ته لومړيتوب ورکړي او دا کار کولی شي د ملي پخلاينې شورا ته چې د سولې په اړه د ملي، سيمه ييزې او نړيوالې اجماع رامنځ ته کول دي په ښه توګه لاری پرانيزي. دواړه مشران بايد د ملي يووالي حکومت ناکامې تجربې دا ځل بيا تکرار نه کړي او د افغان ولس هغه قربانۍ او سربښندنې ته په احترام چې تر دې دمه يې ورکړي، خپله ټوله انرژي په دې مصرف کړي چې څنګه هېواد يوې پايدارې سولې په لور رهي او د سولې راتګ حتمي شي.

که د نوې هوکړه ليک موخه يوازې د قدرت ساتل او روان حکومت پنځو نورو کلونو ته غزول وي هيڅ لاس ته راوړنه به و نه لري او د تيرې دورې په څېر، ناکامېدل يې له ورايه ښکاري. خو که د دې جوړ

Center for Strategic and Regional Studies (CSRS Kabul)

جاړي موخه هېواد کې تل پاتې سولې ته رسېدل وي؛ نو په رښتيا سره يو تاريخي فرصت په لاس راغلی. دواړه مشران بايد شته اختلافات شا ته وغورځوي، کارونه په تفاهم سره مخ ته يوسي او د سولې لپاره راپيدا شوي فرصت څخه په اغېزمنه توګه ګټه پورته کړي.

د نوي هوکړه ليک نه وروسته، ډاکټر عبدالله عبدالله د ولس په وړاندې د يو واقعي امتحان سره مخ شوی، ځکه چې تېرو ټاکنو کې يې مرکزي شعار؛ سولې لپاره کار، او د سولې په خاطر خپله څوکۍ قربانول وو. اوس نو وليدل شي چې دی کومه لار انتخابوي؟ د سولې کاروان د کاميابۍ منزل ته رسوي او تاريخي افتخار ګټي؛ يا د سولې په نوم يو څو نور کلونه په اقتدار کې پاتې کېدل او د ملت آرزوګانې خاورې کول غواړي چې بې له شکه؛ پايله به يې د اولس او الله په وړاندې ملامتيا او رسوا کېدل وي.

په افغانستان کې د تل پاتې او عادلانه سولې په هيله

## یادونه

د ستراتیژیکو او سیمه ییزو څېړونو مرکز اداره ټولو اړوند اړخونو ته یادونه کوي چې لاندیني دوه رسمي برېښنالیک حسابونه د (CSRS) پورې تړاو لري:

**csrskabul@gmail.com - info@csrskabul.com**

هغه لیکنې او پیغامونه چې د ورته برېښنالیکونو او پتو له لارې د CSRS په نوم خپرېږي، جعلي دي او اعتبار نه لري.

په درنښت

سرچینې:


https://thediplomat.com/2020/04/what-the-covid-19-outbreak-means-for-afghanistans-troubled-economy/
https://www.theguardian.com/world/2014/aug/08/afghanistan-presidential-kerry-kabul-ghani-abdullah-election-dispute
https://www.washingtonpost.com/world/asia_pacific/rival-afghan-leaders-sign-power-sharing-agreement-breaking-political-deadlock/2020/05/17/ec5c5a8c-9828-11ea-a282-386f56d579e6_story.html
https://twitter.com/hmohib/status/1262071718350336001


Center for Strategic and Regional Studies (CSRS Kabul)

## په پوله د افغان کډوالو د ډوبیدو پیښه ، او په ایران – افغان اړیکو یې اغېزې



د راپورونو له مخې؛ د روان کال د ثور میاشتې په 12 مه نېټه یو شمېر افغان کډوال چې په غیر قانوني توګه د ایران پولې ته اوښتي وو، د ایران د پوله ساتو ځواکونو لخوا په "دهانه ذوالفقار" سیمه کې ونیول شول. دا افغانان له زورونې او شکنجې وروسته په بېرحمۍ سره سیند ته ګوزار شوي وو. د دې غیر انساني عمل په وړاندې په سیمه ییزه او نړېواله سطحه سخت غبرګونونه راپورته شول، افغان حکومت وویل چې دا ډول عمل د بخښلو وړ ندی او د څېړلو لپاره یې با صلاحیته پلاوی ټاکلی .

ایران ته د افغان کډوالو ډله ییز هجرت د روسي لښکرو د تیري سره پیل شو چې اوسمهال نږدې یو میلیون ثبت شوي او نږدې دوه میلیونه ناثبت کډوال په ایران کې میشت دي ، د تېرو لسیزو په اوږدو کې ډېر ځله افغان کډوال په ایران کې د تاوتریخوالي، او ځورونې ښکار شوي، وهل ټکول شوي، او حتی وژل شوي هم دي. د افغان کډوالو په وړاندې د ایرانیانو کرکه او ناوړه برخورد وړاندې هم ډېر ځله په هیواد کې دننه او د باندې غبرګونونه پارولي وو، خو افغان حکومت، ایران او د نړېواله ټولنه پدې نده توانېدلې چې په ایران کې له میشت افغان کډوالو څخه په سمه توګه دفاع وکړي او خپلو لومړنیو انساني حقوقو یې برخمن کړي. د CSRS تحلیل دا ګڼه مو د همدې پېښې څېړلو او ایران سره د افغانستان پر اړیکو د پېښې د اغېزو په هکله ځانګړې کړې ده.

Center for Strategic and Regional Studies (Kabul)

## ایران او افغان کډوال

افغان کډوال په ایران کې د لسګونو کلونو مهاجرت په لړ کې؛ وار په وار د ایراني امنیتي مقاماتو له خوا د ځورونو او تبعیض ښکار شوي دي. د بشري حقوقو د نړیوال سازمان په وینا هغه افغانانو چې په ایران کې ثبت هم دي ، یوازې د محدودو، سختو او کمې مزدورۍ لرونکو دندو او کارونو اجازه ورکول کېږي ، کډوالو ته تعلیم، واده او له انساني حقوقو څخه د خپلې دفاع په برخه کې محدودیتونه رامنځ ته شوي، زرګونه افغانان په بندیخانو کې دغلا، قاچاق، او قتل په تور ساتل شوي، او د حقوقو د دفاع په خاطر وکیل او حقوقي مشاور ته د لاسرسي اجازه نلري

د ګاردین د ریپورټ پر بنسټ، ایران دولت ددې لپاره چې ایران ته په غیر قانوني ډول راتلونکو افغان کډوالو شمېر راکم کړي، د کډوالو او ددوی د ماشومانو سره ناوړه برخورد او سپکاوی کوي، کورنۍ سره ویشي، او کورنیو لویان په زوره کار ته مجبوري او شکنجه کوي یې، د کډوالو د شړلو په موده کې بې دلیله پیسې ترې غوښتل کیږي، بې مزده کار ته مجبوریږي او له کافي اندازه خوراکي توکو پرته له هیواده ویستل کیږي.

له ایران څخه د راستنو شویو کډوالو په وینا په ایران کې د افغان په حیث ژوند کول د مجرم غوندې ژوند کولو په شان دی. د ډنمارک د نړیوالو مطالعاتو انسټیټیوټ په یوه څېړنه کې له افغان کډوالو داسی نقل قول کوی: (ایرانیانو به مونږ د «مردارخورو افغانانو» او «افغانی خځلو» خطاب کاوه، افغانانو ته سپکاوی یو عادي نورم ګرځېدلی، ددوی په اند افغانان خراب او مردار خلک دي، دوی فکر کوي چې مونږ هیڅ انسانان نه یو، هر څوک چې وغواړي له افغانانو سره هر رنګه سلوک کولای شي او داسې ډېر د تاوتریخوالي واقعات شته چې ثبت کیږي نه او ایراني چارواکي یې په اړه چوپ پاتې کیږي ). د افغانانو په وړاندې په ایران کې تبعیضی چلند او تاوتریخوالي په اړه زیات راپورونه او څرګندونې شوي دی.

د خامه پرس د ریپوټ له مخی، د کرونا بحران په پیل سره د ایران روغتونونو په کرونا ککړو افغانو مریضانو له معالجې ډډه کوله ، چې په نتیجه کی افغانستان ته په کرونا ککړو افغانانو د راستنېدو سیلاب راخوشې شو.

Center for Strategic and Regional Studies (CSRS Kabul)

## د وروستي پېښې جريان

د ۱۳۹۹ ز کال د ثور د مياشتې په ۱۲ امه نېټه،۵۰ پنځوس افغانان چې غوښتل يې د کار په موخه له پولې څخه ايران ته واوړي، د ايران د پوله ساتو ځواکونو له لورې نيول شوي، چې له سختو شکنجو وروسته د هريرود سيند ته غورځول شوي، د پېښې له شاهدانو څخه يوه تن د فرانس ۲۴ خبري شبکې ته ويلي : « مونږ د ۵۰ په شاوخوا کی کسان وو، په مونږ کې سپين ږيري او ماشومان هم وو ، په پړيو مو ځانونه تړلي وو او هريرود له سيند څخه پورې وتو چې د ايران پوله ساتونکو ونيولو، يوه شپه يې په پوسته کې وساتلو، بيا يې مونږ ته په سپکو سپورو پيل وکړل. مونږ يې لوڅې نڅا ته اړ کړو، په لغتو او د ټوپکو په قنداغونو يې ووهلو، بيا يې په لوی بس کې بار کړو، د سيد غاړې ته يې بوتلو او ويې ويل چې له سينده بيرته پورې وزی، که نه په ډزو مو وژنو. د اخطار په شکل يې هوايي ډزې هم وکړې، مونږ د مرګ له وېرې له سينده پورې وتل پيل کړل، مونږ کې اکثرو لامبو نه وه زده، د سيند څپې هم قوي وې، ايراني ځواکونو خندل او ملګري مې په سيند لاهو شول.

د ايراني ځواکونو له لورې دې زړه بوږنوونکي عمل توند غبرګونونه راوپارول. د افغانستان د بهرنيو چارو سرپرست وزير محمد حنيف اتمر د يادې پېښې په اړه خواشيني څرګنده کړې او د هر رنګ ديپلوماتيکو لارو يې د څېړلو وعده وکړه، د امريکا د بهرنيو چارو وزير مايک پمپيو هم د پېښې په اړه غبرګون ښودلی او ويلي يې دي : «افغان مقامات هڅوم چې پراخې پلټنې وکړي او ددې پيښې عاملانو سره حساب کتاب وکړي.

ددې تر څنګ د جنوبي او مرکزي اسيا په چارو کې د امريکا د بهرنيو چارو وزارت مرستيالې اليس ويلز هم د پېښې په اړه څرګندونې کړي او ويلي يې دي:"له افغان کډوالو سره د ايران د بې رحمانه چلند او ناوړه استفادې په اړه چې په دغه راپور کې ادعا شوې، وحشتناکه ده، موږ په دې اړه د هر اړخيزو څېړنو څخه ملاتړ اعلانوو ".

طالبانو هم د يوې اعلاميې په خپرولو سره ياد اقدام ظالمانه بللی او له ايراني حکومته يې غوښتي چې د کډوالو سره د ترحم، اسلامي اخوت او ګاونډيتوب د اصولو سره سم چلند وکړي. افغانستان کی دننه هم سياسی او

Center for Strategic and Regional Studies (CSRS Kabul)

ټولنیزو ډلو، اولسی او مدنی شخصتونو؛ او عامو خلکو د ایرانی مقاماتو ددی ناوړه چلند په کلکه غندنه کړی او هغه یی د نه منلو بللی دی.

افغان دولت ویلي چې د پېښې د پلټنې لپاره یې د ایران سره په ګډه پلاوی ټاکلی چې په ۲۴ د ثور یې خپلې پلټنې په یاده سیمه کې پیل کړي، او ویلي یې دي چې پېښه به د قربانیانو د کورنیو لپاره تر مطمئنولو په جدي ډول تقیب کړي .

## د پېښې لاملونه

هغه شنونکي چې د ایران وضعیت له نږدې نه څاري وایي: په ایران کې د افغانانو په وړاندې تبعیض له دوو اړخونو له خوا تر سره کیږي: لومړی د ایران دولت دی چې افغانان له پارکونو او ځانګړو سیمو منع کوي، د تحصیل په وړاندې یې محدودیتونه را منځ ته کوي، د سپکاوی او تاوتریخوالي له لارې یې د هیواد پرېښودو ته مجبوروي. دوهم ځایي خلک دي چې په کورونو، لارو او سرکونو کې افغانانو ځوروي، د کار اجوره یې نه ورکوي او هیواد او قوم ته یې سپکاوی کوي.

د ځینو شنونکو په اند؛ د ایرانیانو لخوا د افغانانو په وړاندې رقابت، نژاد پالنه او قوم پالنه ددې لامل شوې چې د دواړو هیوادونو د خلکو تر منځ اجتماعي روابط متاثره کړي، ایرانیان د افغانستان د ناوړه حالاتو ته په کتو غواړي افغانانو ته خپل عظمت وښایي او د ځورونې، سپکاوی او تاوتریخوالي له لارې ورته د کمتری احساس ورکړي .

ښایي چې د ایران مخ په ځوړ اقتصاد هم ددې لامل وي چې د افغانانو په وړاندې تبعیضی چلند کې زیاتوالی راشي. په تیرو لسیزو کې ایران د امریکا لخوا له بیلابیلو اقتصادي بندیزونو سره مخ شو، چې له امله یې ددې هیواد اقتصاد وځپل شو. د ایراني مقاماتو په وینا حکومت یې د بندیزونو په شتون کې ددې توان نلري چې مهاجرین ومني او اداره یې کړي، همداراز د ایران لخوا ترسره شوې څېړنې ښیي چې د افغانانو شتون په هیواد کې د کارونو په مارکیټ منفي اغیزه لري او د هیواد په ټولو سکتورونو کې کاري پرصتونه له کمبود سره مخي کړي .

Center for Strategic and Regional Studies (CSRS Kabul)

## پایله

ایران لخوا دا وروستي اقدامات او ورته کړنې کولای شي د سیمې په سیاسي او اقتصادي پالیسیو منفي اغیزې ولري، کوم ډول چې د دواړو اړخونو د خلکو او دولتونو ترمنځ واټن رامنځ ته کیږي، د وګړیو په سینو کې نفرت او کرکه رامنځ ته کیږي، هماغه ډول د هیوادونو سیاسي نظریات او اقتصادي اړیکې هم رخ پیدا کوی.

د وروستی پیښې عاملین ممکن د افغان حکومت د ضعف او ناکامه ډیپلماسۍ له امله د عدالت غبږ ته و نه سپارل شي، خو دا او ورته پیښې به ضرور د دواړو ګاوندي هېوادونو ارتباطات کمزوري کړي. افغان حکومت د زیات شمېر مجبوریتونو سره، سره بیا هم د امریکا او ایران په شخړه کې تر اوسه بې پرې پاتې شوی او ایران سره ښې اړیکې پالي. که د ایران دولت ددې پیښې شفافه پلټنه و نکړي او د هغې په خاطر د افغان اولس نه بښنه و نه غواړي، کیدلی شي د افغانستان لخوا د اعلان شوې بې طرفي کچه را ښکته او امریکې ته د ایران په وړاندې د افغان حکومت د لمسولو پلمه په لاس ورشي. ددې نه ور اخوا؛ د هلمند سیند ټول وژنه یوه حقوقي او جنایي پیښه هم ده چې حق العبدي جنبه لري او هیڅوک هم نشي کولای د متضررینو د ژوند حق د حادثې مرتکبینو ته ور وبخښي. ایراني مقامات که نور هیڅ شي ته تیار نه وي نو لږ تر لږه د وژل شویو افغانانو دیت ( د وینې بیه) خو باید د هغوی کورنیو ته پرې کړي.

په داسې حال کی چې سیمه د مخکې نه د امریکا- ایران د کشمکشونو په وجه له یوې خوا او په افغانستان کې د روانې جګړې په خاطر، له بلې خوا کړکیچنه ده، دا ډول پیښې د هیڅ یو ګاونډي هیواد (ایران او افغانستان) په ګټه نه دي. دا ډول اقدامات نه یوازې غیر انساني کړنې دي، بلکې د دواړو هیوادونو د اقتصادي او سیاسي اړیکو د کمزورتیا سبب کیدای شي. نو دواړه هیوادونو مشران باید په ګډه هڅه وکړي تر څو له یوې خوا د پیښې عاملین ژر تر ژره په ګوته او سزا ورکړی شي. او له بله اړخه د دواړو هېوادونو د خلکو او دولتونو ترمنځ دانساني همدردۍ، غوره ګاونډیتوب او ګټورو سیاسي او اقتصادي اړیکو د ساتلو لپاره ګډ کار دوام ومومي.

پای

Center for Strategic and Regional Studies (CSRS_Kabul)

## اطلاعیه

به آگاهی تمام جهات معنی رسانیده می شود که مرکز مطالعات استراتیژیک ومنطقوی (CSRS) فقط دارای دو ایمیل رسمی به تفصیل ذیل می باشد:

**csrskabul@gmail.com - info@csrskabul.com**

مطالب و پیام هاییکه احیاناً از آدرس (CSRS) با ایمیل های مشابه صادر می گردد؛ جعلی بوده و قابل اعتماد نمی باشد.

با احترام

Center for Strategic and Regional Studies (CSRS Kabul)

**سرچيني:**

**https://www.acaps.org/country/iran/crisis/afghan-refugees**

**Iran: Afghan Refugees and Migrants Face Abuse: Thousands Denied Refugee Rights, Summarily Deported,**

**https://www.hrw.org/news/2013/11/20/iran-afghan-refugees-and-migrants-face-abuse**

**Unwelcome Guests: Iran's Violation of Afghan Refugee and Migrant Rights, November 20, 2013**

**https://www.hrw.org/report/2013/11/20/unwelcome-guests/irans-violation-afghan-refugee-and-migrant-rights#48bb9b**

**https://www.theguardian.com/world/2013/nov/20/**

**https://pure.diis.dk/ws/files/732765/DIIS_RP_2016_11_WEB.pdf**

**https://www.khaama.com/hospitals-in-iran-refuse-to-treat-afghans-amid-coronavirus-pandemic-04533/**

**https://observers.france24.com/en/20200508-**

**https://twitter.com/MHaneefAtmar/status/1257693856478515201**

**https://www.pashtovoa.com/a/afghan-gov-reaction-about-afghan-refguees-/5407991.html**

**https://www.pashtovoa.com/a/afghans-killed-in-iran-border-afg-gov-to-invistigate-it-/5402231.html**

**https://www.researchgate.net/publication/248706846**

**http://economic.mofidu.ac.ir/article_26118.html**